د افغانستان اسلامي امارت
د اقتصادي چاروکمېسيون

د افغانستان اسلامي امارت
د اقتصادي چاروکمېسيون
(۹) مه مصوبه
د ۱۴۴۴هـ.ق کال د رمضان المبارک ۲۱مه
د ۱۴۰۲هـ.ش کال د وري ۲۳مه

---

د اقتصادي کمېسيون د ۱۴۴۴ هـ.ق کال نهمه غونډه، چهار شنبه د رمضان المبارک ۲۱مه (د ۱۴۰۲ هـ.ش کال د وري ۲۳ مه) له غرمې مخکې پر(۱۰:۰۰) بجو په مرمرينه مانۍ کې د عظيم‌الشان قرآن د مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل شوه. غونډې د رياست الوزراء د اقتصادي مرستيال او اقتصادي کمېسيون رئيس محترم الحاج ملا عبدالغني برادر آخند په مشرۍ دوام وکړ.

په غونډه کې له هر اړخيزو بحثونو وروسته، لاندې پرېکړې وشوې:

**لومړی موضوع:** د فراه ولايت د بخش آباد او نيمروز ولايت د کمال خان بندونو د ساحو د لېدنې لپاره د ګمارل شوي هيئت د ګزارش پر اساس د ۱.۱.۱ کابينې داسې پرېکړه کړې:

«د فراه ولايت د بخش آباد بند د انحرافي تونلونو د کيندنې او د نيمروز ولايت د کمال خان بند د تخنيکي چارو د بشپړېدو په موخه د ګمارل شوي پلاوي وړانديزونه تائيد دي، د ۱.۱.۱ اقتصادي کمېسيون ته دنده سپارل کېږي، چې د اړونده چارو د پلي کېدو په اړه اړينې کړنې ترسره کړي».

| | پرېکړه | تطبيق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۱ | د فراه ولايت د بخش آباد او د نيمروز ولايت د کمال خان بندونو د ساحو د ليدلو په موخه، د استول شوي هيئت وړانديزونه تائيد دي. د بودجې تر توشيح او منظورۍ وروسته دې قراردادي شرکت ته مشخص شوي ۶۰۰۰۰۰ شپږ سوه زره امريکايي ډالر تاديه شي. اړونده وزارتونه او ادارې دې د يادو بندونو د چارو د چټکتيا او بشپړيدو په موخه اړينې چارې ګړندۍ کړي. | د اوبو او انرژۍ وزارت، د ماليې وزارت | د اړتيا مطابق |

**دويمه موضوع:** د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله د دې حکم «هېڅوک نه شي کولای چې په خپل سر تاسيسات، فابريکې او مارکېټونه وتړي او يا يې برېښنا پرې کړي. که کومه اداره شکايت لري، موضوع دې اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي» د تطبيق د څرنګوالي په اړه ځينو ادارو د مشرانو هدايت غوښتی دی، دغو ادارو خپل نظريات په لاندې ډول رالېږلي دي:

۱. د افغانستان برېښنا شرکت وايي د ياد حکم له صادرېدو وروسته نه شي کولی چې د خپلې پاليسۍ سره سم د برېښنا بيلونو د نه ادا کولو په صورت کې د فابريکو او نورو پېرودونکو برېښنا پرې کړي چې له امله يې صنعتي فابريکې خپل پورونه پر وخت نه ادا کوي او ورځ تر بلې زياتيږي.

۲. د خوست ولايت محترم والي په وينا د ياد حکم له صادرېدو وروسته د نوموړي ولايت ښاروالي د عوايدو په راټولولو کې له ستونزو سره مخ ده او نه شي کولی چې د قانوني تخلفاتو يا د فيسونو د نه ورکړې په صورت کې دوکانونه او مارکيټونه وتړي.
د غزني ولايت محترم والي په وينا د ياد حکم له صادرېدو وروسته د نوموړي ولايت ښاروالي د عوايدو په راټولولو کې له ستونزو سره مخ ده او نه شي کولی چې د قانوني تخلفاتو يا د فيسونو د نه ورکړې په صورت کې دوکانونه او مارکيټونه وتړي.

| | پرېکړه | تطبيق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| | د مالياتي او سوداګريزو تخلفاتو له وجهې د تأسيساتو، فابريکو، مارکېټونو او کاروبارونو د تړلو په اړه، د عاليقدر اميرالمؤمنين د | ټولې اړوندې ادارې | دوامدار |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲ | حکم او د اقتصادي کمېسیون د شوې پرېکړې په نظر کې نیولو سره، هر وزارت یا اداره چې غواړي د مالیاتي او سوداګریزو تخلفاتو له وجهې لویې تولیدي فابریکې، لوی شرکتونه او مارکېټونه بند کړي، نو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت ته دې مراجعه کوي. په مرکز کې اړوند وزارتونه او په ولایاتو کې د اړوندو وزارتونو اداري د مرکز له اجازې وروسته، د متخلفو وړو دکانونو او کاروبارونو په بندولو کې صلاحیت لري چې لازمې کړنې ترسره کړي.<br>نظامي ارکانونه دې په هر صورت کې د یادې کړنې په موخه اقتصادي معاونیت ته مراجعه کوي. | | |

**دریمه موضوع:** د عایداتي منابعو د فعالولو لپاره د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمان د تطبیق اړوند د مالیې وزارت د ترسره کړو فعالیتونو ګزارش د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت محترم مقام ته رالېږلی دی.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۳ | د عایداتي منابعو د فعالولو په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمان د تطبیق اړوند د مالیې وزارت لخوا د ترسره شویو فعالیتونو پر اساس، وراندې شوی رپوټ او اړونده وراندیزونه یې په پرنسیپ کې تائید دی؛ یاد رپوټ او وراندیزونه یې دې د عالیقدر مشرتابه دفتر ته واستول شي. اقتصادي معاونیت او د مالیې وزارت دې د عایداتي منابعو په برخه کې د اړونده وزارتخانو سره په ګډه خپل کار ته دوام ورکړي، تر څو نوي عایداتي منابع چې په دغه راپور کې نه دي رانغښتل شوې و پېژندل شي او اقتصادي کمېسیون ته وړاندې شي.<br>د ځینې عایداتي منابعو فیسونه چې د عالیقدر مشرتابه لخوا بند شوي دي، په اړه یې دې اړونده ګمارل شوې کمېټه له سره کار وکړي او خپل رپوټ دې د عالیقدر مشرتابه مقام ته وړاندې کړي.<br>د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت په مشرۍ ټول اړونده ادارات دې د الکترونیکي سیستمونو په برخه کې د همدې مصوبې د صدور له نېټې اړین اقدامات وکړي.<br>د موسسو، شرکتونو او نورو ادارو د کارمندانو د تثبیت، د مالیې د فرار د مخنیوي او حقیقي مالیې مشخصولو، د ټولو امارتي ادارو د پالیسیو او اداري مؤثریت د طرحو او د الکترونیکي حکومتدارۍ په اړه، په ترتیب سره د تخنیکي ناستې دا نظریات چې:<br>«د موسسو، شرکتونو او نورو ادارو د کارمندانو د تثبیت، د مالیې د فرار د مخنیوي او حقیقي مالیې د تثبیت په برخه کې باید د اقتصاد، مالیې، صنعت او سوداګرۍ، عدلیې او نور سکټوري وزارتونه او اداري یو له بل سره همغږي رامنځته کړي.» | د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت، د اقتصاد، مالیې، صنعت او سوداګرۍ، عدلیې، مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژۍ او نور سکټوري وزارتونه او اداري | عاجل |

دافغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت
د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء
Islamic Emirate of Afghanistan
Economic Commission Secretariat

| | | | |
|---|---|---|---|
| | «ټول وزارتونه او امارتي اداري دې د مالياتي او غير مالياتي عايداتي منابعو پاليسی (نرخونو) او اداري مؤثريت لپاره طرحې جوړې او اقتصادي کمېسيون ته د منظورۍ لپاره وړاندې کړي.»<br>«اړينه ده چې د افغانستان اسلامي امارت په ځانګړي ډول د عوايدو او لګښتونو او په ټوله کې د امارتي خدماتي د الکترونيکي سيستمونو، د دغو سيستمونو د حفظ او مراقبت او عملياتي چارو، اقتصادي او مالي احصايو معياري کولو او الکترونيکی حکومتدارۍ په برخه کې د يو خاص پروګرام د طرحې او تطبيق له لارې عملي اقدامات تر لاس لاندې ونيسي.» تائيد دی. | | |

**څلورمه موضوع**: له فتحې مخکې په يو شمېر سيمو کې د ۱.۱.۱ د مخکني اقتصادي کمېسيون د اوبو او برېښنا ادارې لخوا ۴۷۴۲۹ ميټرونه وېشل شوي وه، د افغانستان برېښنا شرکت د يادو ميټرونو په اړه ځيني وړانديزونه اقتصادي معاونيت ته د منظورۍ لپاره رالېږلي دي.

| | پرېکړه | تطبيق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۴ | له فتحې مخکې په يو شمېر سيمو کې د ۱.۱.۱ اقتصادي کمېسيون، د اوبو او برېښنا ادارې لخوا د ۴۷۴۲۹ په تعداد د وېشل شويو مېټرونو او ترانسفرمرونو د باقي دارېو په اړه دې د افغانستان برېښنا شرکت بې له دې چې له فتحې مخکې حسابونه په پام کې ونيسي، له فتحې وروسته د ټولو صادر شويو تعرفو پيسې ترلاسه، ياد مېټرونه تبديل او پر مشتريانو دې نوي مېټرونه توزيع کړي. د نويو مېټرونو د نصب له نېټې څخه دې يادو مېټر لرونکو مشتريانو ته له صفر څخه تعرفې صادر شي. | د اوبو او انرژۍ وزارت، د افغانستان برېښنا شرکت | عاجل |

**پنځمه موضوع**: د هرات ولايت د سون توکو واردوونکو تجارانو د عرضېانې اړوند د مالېې وزارت د لېږل شوي پلاوي د ګزارش اړوند يادښت د لوستلو وروسته د رياست الوزراء عالي مقام داسې هدايت کړی دی:

«وکتل شو! د اقتصادي چارو محترم کمېسيون ته:

ياده موضوع تاسو ته راجع شوه، د ستونزو د حل لپاره خپل نظر راسره شريک کړئ.»

| | پرېکړه | تطبيق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۵ | د هرات ولايت د سون توکو واردوونکو تجارانو د ستونزو د حل په موخه د لابراتوارونو د کمپلکس تر جوړېدلو، د نورم او ستندرد اداره دې د لابراتواري ستونزو د رفع په موخه اړين اقدامات وکړي.<br>د مالېې وزارت دې د هرات ولايت په اسلام قلعه ګمرک کې د تجارتي مالونو د سريع پروسس په موخه په ياد ګمرک کې د ضرورت مطابق خپل يوزرونه اضافه کړي.<br>د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت د پخواني تصميم پر اساس، د مالېې وزارت دې د نورم او ستندرد ادارې اړوند حساب ته په ګمرک کې د يادې ادارې په نوم او امتياز د تجهيزاتو او وسايلو د نوي کولو په موخه د تجارو لخوا ورکړل شوې پيسې يادې ادارې ته | د مالېې وزارت، د نورم او ستنډرډ ملي اداره | عاجل |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | په نظر کې ونيسي.<br>همدا رنګه، د نورم او ستندرد اداره مکلفه ده چې د خپلو اړوندو لابراتورونو د کاري ظرفيتونو د لوړولو په موخه، د بشري سرچينو د اړتيا مطابق ۱۵۰ تنه تخنيکي او مسلکي کادرونه وروزي. | | |

**شپږمه موضوع:** د جوزجان ولايت قوش تېپې او درزاب ولسواليو ته د يو معدن په بدل کې د برېښنا رسولو اړوند د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله حکم.

| | پرېکړه | تطبيق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۶ | د جوزجان ولايت قوش تېپې او درزاب ولسواليو ته د برېښنا رسولو په موخه دې د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ له کانونو او پټروليم، کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ، صنعت او سوداګرۍ او اقتصاد وزارتونو او د افغانستان برېښنا شرکت څخه يو تخنيکي هيئت سيمې ته سفر وکړي او يادو ولسواليو ته د برېښنا د توليد او رسولو موضوع دې له نږدې و ارزوي او خپل رپوټ دې د وروستي تصميم لپاره اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي. | د اوبو او انرژۍ، کانونو او پټروليم، کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ، صنعت او سوداګرۍ او اقتصاد وزارتونه، د افغانستان برېښنا شرکت | يوه مياشت |

**اوومه موضوع:** د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د حکم پر اساس د تشکيلاتو او معاشاتو محترم کمېسيون د مالياتو د راټولولو اصول په هر اړخيزه توګه څېړلي او خپل راپور يې د معلوماتو شريکولو لپاره اقتصادي کمېسيون ته رالېږلی دی.

| | پرېکړه | تطبيق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۷ | د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د حکم پر اساس د تشکيلاتو او معاشاتو محترم کمېسيون له لوري د مالياتو د راټولو د اصولو په اړه شوې څېړنه او اجراآت تائيد دي. د يادې طرحې يوه، يوه کاپي دې د اقتصادي کمېسيون غړيو وزارتونو سره شريک شي. | د ماليې وزارت، د اقتصادي کمېسيون دارالانشاء | دوامدار |

**اتمه موضوع:** د ا.ا.ا کابينې، اقتصادي کمېسيون ته دنده سپارلې ده چې د خوړو او درملو ملي ادارې سره په همغږۍ د درملو د بيلګې موضوع په خپلو کاري لومړيتوبونو کې ونيسي.

| | پرېکړه | تطبيق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۸ | د ا.ا.ا کابينې لخوا، د خوړو او درملو ادارې د درملو د بېلګې اړوند اقتصادي کمېسيون ته سپارل شوې دندې ته په پام، وروسته له دې د خوړو او درملو ادارې اړوند د درملو د بېلګې موضوع د اقتصادي کمېسيون د چارو په لومړيتوبونو کې شامله شوه.<br>د خوړو او درملو ادارې په مشرۍ، د استخباراتو لوی رياست، صنعت او سوداګرۍ، ماليې، کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ له وزارتونو څخه دې په عاجله توګه، يو ګډ کمېسيون جوړ شي؛ ياد کمېسيون ته دنده سپارل کېږي چې افغانستان ته د غيرقانوني او بې کيفيته خوړو او درملو د تورید او توليد د مخنيوي په موخه يوه جامع کړنلاره جوړه او د تائيد لپاره ژر تر ژره چې ممکنه وي، اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي. | د صنعت او سوداګرۍ، ماليې، کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارتونه، د استخباراتو لوی رياست، د خوړو او درملو ملي اداره | دوامداره |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | د خوړو او درملو ټولو شرکتونه او تجاران مکلف دي چې د اقتصادي کمېسیون د همدې مصوبې له صدور څخه، د یوې نیمې میاشتې په موده کې هیواد ته د خوړو او درملو خپل ټول واردات د خوړو او درملو ادارې د اصولو سره سم، برابر کړي. | | |

**نهمه موضوع:** د اوسپنې پټلۍ ادارې د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴هـ.ق کال (۷) مې مصوبې (۵) مې پرېکړې پر اساس د اوسپنې پټلۍ لپاره د طرحې جوړولو ابتدایي معلومات اقتصادي کمېسیون ته رالېږلي دي.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۹ | د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴هـ.ق کال ۷ مې مصوبې ۵ مې پرېکړې پر اساس، د اوسپنې پټلۍ ادارې لخوا وړاندې شوی رپوټ واوریدل شو. د اوسپنې پټلۍ اداره دې خپلو روانو چارو ته دوام ورکړي. | د اوسپنې پټلۍ اداره | د اړتیا مطابق |

**لسمه موضوع:** د کابل ښاروالۍ د خپلو ځینو ملکیتونو لپاره د عامه او خصوصي مشارکت پر اساس د پانګونې (۶) طرحې اقتصادي کمېسیون ته د تاییدۍ لپاره رالېږلې وې چې د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۳/۱۱/۶ نېټې (۹) مه غونډه کې یې په اړه داسې پرېکړه وشوه:

«په کابل ښار کې د ښاروالۍ لخوا ۶ مشارکتي طرحې په پرنسیب کې تایید دي، کابل ښاروالي مکلفه ده څو د خصوصي سکتور ترمنځ د سالم رقابت په موخه یې داوطلبۍ ته وسپاري او د قانوني پړاوونو له طې کولو څخه وروسته یې د منظورۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي».

د پورته پرېکړې د تطبیق په موخه د کابل ښاروالۍ (۳) مشارکتي طرحې:

| شمېره | د پروژې نوم |
|---|---|
| ۱ | د بهزاد سینما اړوند ساحې قرارداد |
| ۲ | د بهزاد سینما مقابل ساحې قرارداد |
| ۳ | په دریم مکروریان کې د قاضي پلازې شاته ځمکې قرارداد |

د سالم رقابت په موخه داوطلبۍ ته وړاندې کړې دي چې یو شمېر شرکتونو د پروژو اړوند خپل پروپوزلونه د کابل ښاروالۍ ته سپارلي چې له ارزولو وروسته کابل ښاروالۍ د وروستي تصمیم لپاره اقتصادي کمېسیون ته رالېږلي دي.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۱۰ | د کابل ښاروالۍ لخوا د بهزاد سینما محوطې، د بهزاد سینما مقابل ساحې او په دریم مکروریانو کې د قاضي پلازې شاته د ځمکو د عامه-خصوصي مشارکتي طرحو قراردادونه د آزادې داوطلبۍ له لارې د وړاندې شویو پروپوزلونو په شرایطو سره، تائید دي. | د ښار او کور جوړولو وزارت، د کابل ښاروالۍ، د چاپېریال ساتنې ملي اداره | د اړتیا مطابق |

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت
د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan